# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| طنز | Satire |
|---|---|

بســـــــــمل
20-03-2010

## په چین کې سیاسي پناه واخله چې دربنتیا پاچا شې



انسانان خو لا څه کوي چې آن چرګان هم یو ربنتیني او زړور مشر ته اړ دي



نه نه زه مشر نه يم په وچ زوريې راوستی يم

**دکابل ارګمشره؟!**

**نه خوزه ډېر وخت لرم نه به ستا اوقدرمنو لوستونکو وخت نيسم بس دا يو څو خبرې مې ومنه چې رښتينی پاچا درڅخه جوړ کړم .**

**داخپل استعدادخودې ښه سم درته مالوم دی چې د دوخرو داوربشو په ببلبدولا نه پوهيږې اوکه پوهېدای نو په دا خپله نږدې يوه لسيزه واکمني کې به دې د کوم سياسي خوځښت بنسټ ايښی و دا خو لا پرېږده چې د کوم پوځي دلګي په جوړېدو لا هم بريالی نه شوې چې کم ترکمه خو يې ستا دادڅلورودېوالونو امنيت په ډاډه ډول سره درته نيولای وای هر چايو يو شغال د زمري په نوم دربانديې ومانه اوتاهم ورته داړې جونګي کړې .**

**که له دې خبروبلې خواته پام واړوو نوهلته هم ستاپه خوله څوک پياز لانه خوري وزير، والي او ولسوال خو څه چې آن علاقدار دې هم په غږ نه دی .**

**تا پخپله د ارګ په مانۍ کې وېلي چې تنها دسواد زده کړې وزيره زما په خوښه ده دانور ټول راباندې تپل شوي دي اوس نو ځواب راکړه چې ته ولسمشر يې او که دېوال چې هر څوک به ستا پرمخ چاپکې (څپياکې) تپي؟**

**۴۴هيوادونه دنظم، ديموکراسي اوعدالت په نوم ستا تر څنګ ولاړ دي خو ته نه په دې بريالی شوې چې خپل ولس ته امن راولې نه په دې بريالی شوې چې په دا خپله پوډري اومافيايي ادره کې سمون راولې تر څو دا مرور ولس درپخلا اوبيا زړه درنږدې کړي، آن ستا دعدلې وزير لا اعتراف کوي چې دکرزي لوړ پوړي چارواکي په فساد او دمخدره توکو په کاراوبار کې لاس لري خو موږ ورته ځکه څه نه شو وېلای چې خدای مه کړه په دا ننني جنتي افغانستان کې به بې امني راشي له اسمانه به ټکه را پرېوزي دادجنت منارې به يوه په بله پسې را ونړيږي .**

**هغه دکورنيوچاروزيرجلالي هم دهمدې جنت دنړېدو انديښنه لرله چې په خپل ټول کش اوفش سره يې دوه غله هم نه شوای بربندولای دا ځکه چې هغه غله د ښکېلاکګرو لخوا بېمه شوي وو او دي .**

**ښاغليه ؟!**

که جلالي خوله پټه نيولي وه او ولس ته يي حقيقت نه ويل هغه خو صرف يو وزير و حيران خو تا ته يو چې ته هم خان ولسمشر ګڼي هم له ولس څخه هر څه پټوې دا ته به تر کله ګونګی يې؟

ستا په دا تور دور کي خو داستاخپل قام په لمبو کي پولی پولی څه چي خونړي ريچارد هولبروک دا ستا دقام په هره کورنی کي يو تن د ترهګر په نوم نړيوالو ته وروښود آيا داستا د هغو هڅومېوه ده چي په اسلام آباد کي د امريکاسفارت ته هغه په اصطلاح دجهاد په کلونوکي ورغلي ظاهراً دي د دي نبت کړی وچي ته امريکايانوته دافغان ولس تاريخ ، توره او خصوصيات وروښيي خو برج دي جوړاوه درنه کادانه شوه که څنګه ؟




بس را شل دي کړه نارينه؟؟

ډېره ښه توره دي وکړه دنورو خوځه چي آن دخپل خان ازادي او استقلال دي لا هم وبايلود رايي وستي په څلورو دېوالونو کي يې حصارکړې خو بيا هم ستا نفس دارګ په سوړه کي تنګ نه شو افرين دا ستا په همت !؟

رښتيا هم چي دمجددي په اخور لوی شوی خوسکی به همداسي بې همته او بې ننګه وي .

لږ خو دا دخپلو نيکونو تاريخ ته وګوره لږ خو دا د مظلومو خلکو نارو سورو ته غوږ شه .

ستاپه توردوران کي له ګران افغانستان څخه کاروان سرای جوړ شوهر غل اوغداردلته راغلی او زموږ په بېګناه ولس زده کړي کوي ستا له لاسه زموږ له هيواده دخونريزي او وسلو ازمويلولابراتوار جوړ شوی دی .

ستاله برکته زموږ مملکت ته لکه دملانصرالدين کلايو دېوال او يوقلپ ورپاته دی هره خوايي خلاصه ده ته لا په ارګ کي ويده يې چي دېپرنګيانو صدراعظم يايي دبهرنيو چارو وزير بې له دي چي ويزه او پاسپورټ ولري په هلمند کي غومبر وهي همداسي دامريکا دزړي کلا پيری (خونخور او منفور ريچارد هولبروک) بيا مزار ته د عطا دشيطاني لپاره تللی وې تر څوچي ته پرې خبرېږې هغه له واشنګټن څخه هم تېر شوی وي داهم ستا واکمني شوه ؟

اوس نوته يو ځل په دا خپله مبارکه خوله موږ ته واکمني تعريف کړه چي څه ته وايي؟



**ته په خپله وايې چې خبر يم په الوتکو کې وسلوال کسان د هيواد شمال ته نقل کيږي، نوچې خبر يې دا اقدام به څه وخت کوې؟**

**مخکې مې هم وليکل چې ډېروخت نه لرم بس زړه مې دربانديږ سوځي تا ته به يوه داسې نسخه درکړم چې داټول داغونه به دې پاک شي دافغانستان په تاريخ کې به يو ربښتينی اواتل مشر ونومول شې خوکه ته زماومنې هغه دا چې دتمساح اوښکې نورې مه بهوه بيره وکړه له دې چانس څخه ګټه پورته کړه :**



**۱ ـ چين ته خو روان يې نو چې ځې هسې يو څو تنه دميرويس جان اوخپلې مېرمنې په ګډون درسره بوزه .**

**۲ ـ په چين کې په دالمرۍ ورځ دا نور کسان درڅخه بېل کړه .**

**۳ ـ بس په همدې ګاونډي چين کې سياسي پناه وغواړه چې د ربښتيا پاچا شې .**

**دالاي لامه تر امريکا پورې رسېدلی شي دا تابه څه بلا ووهي چې په دا خپل ګاونډ کې پناه واخلې؟**

**باوروکړه چې له چين سره کومه خواخوږي نه لرم اونه چين زموږ په ولس دزړه له نېته زړه سوی کړی دی خوبيا هم له دانوروګاونډيانوڅخه نسبتأبې غرضه ښکاري، هم د نړۍ په کچه يوغښتلی او هم داسيا يولوی قوي هيواد ګڼل کيږي .**

**ته خو چندان په خبره نه پوهيږې اوس مې هم لا شک دربانديږ راځي چې دازمانسخه به عملي کړې دا ځکه چې ضمير دې غلامي او ټيټ ژوند منلی دی خير په هر صورت لږ همت وکړه پناه واخله او يو پينځه کسان هلته په چين کې د سوليز مقاومت په نوم سره راټول کړه تر څو د انګرېزانو او امريکايانو د زاړه رباب تارونه يو پر بل پسې وشکيږي .**

**دا خبره ما دازادي راديو د ازادي په څپوپروګرام کې هغه وخت هم وکړه کله چې تېر کال په کندوز کې زموږ تر ۱۵۰ زيات بې ګناه ورونه اوخويندې د تېلو د دوو ټانکرونو د تښتولو په دسيسه کې بمبارد شول .**

**ښاغلي الکوزي په ازادي راديو کې له ما څخه وپوښتل چې د دې ډول بمباريو په مقابل کې څه کول په کار دي؟**

**ماورته په زغرده ووېل چې بايد دافغان مقاومت يوڅو تنه چين يا کوم بل امريکا ضد هيوادته ځانونه ورسوي فعاليت شروع کړي تر څو امريکايانو اوپېرنګيانو ته وېره پيداشي نوبه له واره په خپله يرغليزه ستراتيژي کې بدلون راوړي .**

**وه بې نوم او نشانه مشره ؟!**

**دچين او امريکا مناسبات تر بل هر وخته وران او لا نور به هم پسې وران شي،امريکايانو دګوادر په بندر کې نه تنها چې چنايي انجنيران ووژل بلکې چين ته يې سخت اقتصادي ګوزارونه هم ورکړل ددې ترڅنګ**

امریکا په پاکستان کې داسیا دکنترول لپاره دسفارت په نوم یو لوی څارګریز مرکز جوړوي چې دابه نه تنهاچین ته خورا خطرناک وي بلکې دټولې اسیا د نا ارامي سبب به هم وګرزي اوس نوباور وکړه چې ستا پناه غوښتنه او بیا په چین کې دسولیزمقاومت په نوم خوځښت به د نړیوالو په تېره بیا دامریکا په ستراتیژۍ کې ژور بدلون راولي افغان ولس په تېره بیاپښتانه به ددې ظالمانوله ناخوالوڅخه خلاص کړي په سیمه کې به یو بل ډول حالت حکم فرما شي .

ظالمه ستا څه کمیږي؟

نوم به نوم وګټې ولس به ولس درخپل او په راتلونکې کې به تا د یو اتل په نوم ومني اوس خو دافغانستان په تاریخ کې تر بل هر واکمن څخه ته زیات ګناهکار بلل کیږې داځکه چې هر څه له خپل ولس څخه پټوې دمصلحت په نوم دې په هیواد داسې بده ورځ راوسته چې موږ په بهر کې لا پورته نه شو کتلای هو!

دا به درسره ومنو چې تا به دچرګ سر هم نه وي غوڅ کړی خو دا نه شو منلی چې ته مجرم نه یې دا ځکه چې تا دا لوی لوی قاتلان نه تنها چې وساتل بلکې داسې دې پسې چاغ کړل چې کله دې په لغته وهي کله په لکۍ او کله هم ښکر درته برابر کړي لنډه دا چې په حقوقي لحاظ ته دهغوی جرمي ملګری یې .

اوس نوکه ته په دې وېرېږې چې په چین کې به ازادي ونه لرې، په خپل سربه ازاد ونه شې ګرزېدای نو زه به دا تاجناب اعلي ته ووایم چې همدا اوس خو هم د چرګانو په سوړه کې حصار یې کوم وخت تا په شهر نو او یا باغ بالا کې په خپل سر ازاد قدم وهلی دی ؟

کله دې دقسیم فهیم لنډه غر له غازي لوبغالي راځغلوي اوکله بیا دامرالله صالح لنډه غر دطالب په نوم سناریو درته جوړه دعیدګاه جماعت مخې ته جشن دربانډې برغنډ برغنډ کړي ته په سلګیوسلګیوددفاع له قهرمان؟! وزیر سره جوړه راغورځې ایله په ایله ارګ ته ټوپی ورسوې .





بیا نو دکامرې مخ ته سترګه برتوې او وایې چې (باطمنان باشـــیم؟!) تا باید داسې وېلي وای چې ( ماباطمنان ګریختیم ) .

مقصدپه تاباندې ازادقدم وهل حرام دي نه یې نن وهلی شې نه سباناو آن د ژوند ترپایه به همداسې لاس او پښې تړلی ګرزې خوکه دازما نسخه عملي کړې زه په ضمانت سره ډاډ درکوم چې وروسته له یو څو کلونو به آن په خپلو کلیو او بانډو کې هم ازاد وګرزې .

بس نوتښته توپۍ ورپرېږده پښې سپکوه هله ژرشه پناه واخله له ارګمشري څخه تېر اویو تاریخي ولسمشر شه



**یادونـــه :**

**داسې اوازې دي چې ته هغه پخوانی کرزی نه یې ماناد هغه اصلي حامدکرزي په خبر یې تراشلی یې دا هم وېل کيږي چې ملا عمر، ګلبدين حکمتيار،اسامه او نور لوړ پوړي طالب او القاعده مشران د هغه پخواني کرزي په ګډون په امریکا کې بندیان دي،اوس به مالوم شي که په چین کې دې پناه واخیسته نو په ربښتیا هغه پخوانی کرزی یې اوکه بېرته ارګ ته راغلې نوکېدای شي چې کوم بل تراشل شوی کرزی واوسې لکه دا خلک چې وایي .**